مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۰٦/۲۱

# د زهرو په پیاله باندې قانع یو

## غزل

د کور، کلي دروازې نه شړل کیږو
بیا د سولې د سایې نـه شړل کیږو

چې د زهرو په پیاله باندې قانع یـو
خود د ننګ او پت جذبې نـه شړل کیږو

خود شکمن د حکیمانو پـه درمان یو
د ژوندون ښکلې اسرې نـه شړل کیږو

د اور بند پـتـې دردنـو تـه دوا وه
اوس د امـن دایـرې نـه شړل کیږو

جام، تسبیح په لاس کوڅه په کوڅـه ګرځو
له مسجد او میکدې نـه شړل کیږو

توره شپه مې په نصیب شوه پسرلیه!
د رڼـا لـه کرونډې نـه شړل کیږو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com